د عُكْل او يا عُرَيْنَةَ څخه ځينې خلک راغلل چې د مدينې هوا ناروغه کړل

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: د عُكْل او يا عُرَيْنَةَ څخه ځينې خلک راغلل چې د مدينې هوا ناروغه کړل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د اوښانو سپارښتنه وکړه چې متيازې او شېدې يې (د درملنې په موخه) وڅښي، نو لاړل (ويې څښلې) او کله چې ورغېدل نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم شپون يې وواژه او څاروي يې له ځان سره مخکې کړل، همغه و چې د ورځې په پېل کې يې خبر راورسېد، نو خلک يې پسې ولېږل، کله چې لمر ښه راپورته شو دوی راوستل شول، نو امر يې وکړ او لاسونه او پښې يې پرې شوې او سترګې يې په سکروټه شوو مېښونو وداغل شوې او په دښته کې پرېښودل شول، اوبه يې غوښتلې خو نه ورکول کېدې، ابو قلابه وايي: دا هغه خلک وو چې غلا او قتل يې کړی و او له ايمان راوړلو وروسته کافران شوي وو او د الله او د هغه له رسول په وړاندې جنګېدلي وو.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته له دوو قبيلو؛ عرينه او عكل څخه ځينې خلک راغلل او مسلمانان شول، نو په مدينه کې ورته يو ډول ناروغي پېدا شوه چې له امله يې د دوی ګېډې ويړسېدې، نو په مدينه کې يې مېشتېدل خوښ نه شو، ځکه چې خواړه او هوا يې په دوی ښه ونه لګېده. نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته امر وکړ چې د زکات د اوښانو پنډغالي ته لاړ شي او له متيازو او شېدو څخه يې وڅښي، نو دوی لاړل، کله چې ورغېدل، غټ او چاغ شول او رنګونه يې بېرته ځای ته راغلل نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم شپون يې وواژه او اوښان يې له ځان سره مخکې کړل، تر دې چې د ورځې په پېل کې يې خبر راغی، همغه و چې خلک يې پسې ولېږل او ونيول شول، کله چې لمر ښه راپورته شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اسيران راوستل شول، هغه يې د لاسونو او پښو د پرې کولو او سترګو ړندولو امر وکړ، ځکه دوی دا کړنې له چوپان سره کړې وې، بيا په سره او ګرمه دښته کې وغورځول شول، اوبه يې غوښتلې خو نه ورکول کېدې تر دې چې مړه شول. ابو قلابه وايي: دوی غلا او قتل وکړ او له ايمان راوړلو وروسته کافران شول او د الله او د هغه د رسول پر وړاندې يې جګړه وکړه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66205